د آی سي آرسي خبرپاڼه
شمیره: ۱۵ / ۶۶
نیټه: د ۲۰۱۵ د اپریل ۳۰ مه

افغانستان: د ملکي وګړو د ډیریدونکي مرګ ژوبلې په اړه اندیښنه

ژنیو / کابل (آی سي آرسي) – د سره صلیب د نړیوالي کمیټي (آی سي آرسي) د عملیاتو مشر، ډومینیک سټلهارټ په افغانستان د روانې جګړې له امله د ملکي وګړو د ډیریدونکي مرګ ژوبلې په اړه اندیښنه وښودله. هغه وویل دا په ځانګړي توګه پداسې حال کې د خواشینۍ وړ ده چې پدغه هیواد کې د بشري فعالیتونو لپاره د ژمنو مرستندویانو ملاتړ هم مخ په کمیدو دی.

ښاغلي سټلهارټ لدغه هیواده د یوې لیدنې پر مهال وویل، " په تیرو څو اونیو کې موږ د ډیریدونکو بریدونو او د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د ډیریدو په اړه ژوره اندیښنه لرو".د اپریل په ۱۸مه په جلال آباد کې بې توپیره برید، چې ۳۳ کسان یې ووژل او له ۱۰۰ ډیر نور کسان یې د ملکي وګړو په ګډون ټپیان کړل، د خطر زنګ دی.

د آی سي آرسي د عملیاتو مشر زیاتوي، " بشري اړتیاوې په افغانستان کې ندې کمې شوې؛ دغه اړتیاوې ډیریږي. موږ وینو چې جګړې سختیږي".آی سي آرسي د ۲۰۱۵ کال په لومړیو دریو میاشتوکې د جګړې له کربنو له لیرې پرتو سیمو څخه روغتیایي مرکزونو ته د ۳۴۵ تنو ټپیانو د لیږد چارې برابرې کړیدي. دا د تیر کال د همدې مودې په پرتله ۱۹٪ زیاتوالی ښیي.

ښاغلي سټلهارټ زیاته کړه، " اوسمهال دا حیاتي موضوع ده چې مرستندویان د افغانستان ډیرو اړو خلکو ته ژمن پاتې شي". تر اوسه پورې په افغانستان کې بشري فعالیتونو لپاره د آی سي آرسي د ۲۰۱۵ کال غوښتنې یوازې ۲۵٪ غوښتل شوې مرستې ترلاسه کړیدي.

د دغې لیدنې پرمهال ښاغلي سټلهارټ د ملي امنیت سلاکار، محمد حنیف اتمر او د بهرنیو چارو وزارت له مرستیال حکمت خلیل کرزي سره ولیدل او په یو شمیر موضوعګانو باندې لکه د توقیف او روغتیا او همدارنګه بیځایه شویو کسانو سره د مرستې په اړه وغږیده. هغه همدارنګه له میرمن فاطمه ګیلاني د افغاني سرې میاشتې ټولنې له مشرې سره وکتل او په هیواد کې د بشري ننګونو او د آی سي آرسي او افغاني سرې میاشتې ټولنې تر منځ د دوامداره همکارۍ په هکله یې بحث وکړ.

د ۲۰۱۵ کال له جنورۍ تر دسمبر پورې، آی سي آرسي:
- ۸۰۰۰۰ کسانو ته یې د څښلو پاکې اوبه برابرې کړیدي.
- نږدې ۳۵۰۰۰ کسانو سره یې د توکو مرسته کړیده.
- نږدې ۵۰۰۰ معلولیت لرونکو کسانو ته یې مصنوعي غړي جوړ کړیدي.

د لا ډیرو حقایقو او شمیرو په اړه لاندې لینک وګورئ:

https://www.icrc.org/en/document/afghanistan-facts-and-figures-2015

د لا ډیرو معلوماتو لپاره له لاندنیو شمیرو سره اړیکه ټینګه کړئ:

ماریک ریسیچ، آی سي آرسي کابل: ۰۰۹۳۷۲۹۱۴۰۵۱۰

زرلښته سرمست، آی سي آرسي کابل: ۰۰۹۳۷۹۴۶۱۸۹۰۸

فرانسیس مارکویس، آی سی آرسی ژنیو: ۰۰۴۱۷۹۲۱۷۳۲۰۴